# ستاسو اهمیت



# ستاسو اهميت

# ستاسو اهمیت






هو، تاسو.




**عیسیٰ مسیح وایی!**

لکه چه پلار ما سره مینه کړی ده دغه شان زهٔ تاسو سره مینه کوم. (یوحنا ۱۵: ۹)




## هغه د انسان نه پیدا شوے د خدای روحانی زوی دے

هغهٔ دا ټول څیزونه جوړ کړل. د هغهٔ په وسیله یی هم ټول کائنات پیدا کړل. (عبرانیانو ۱: ۲)




**هو، تۀ هم!**

هغه په خپله ټول کائینات له ژوند او ساه او نور ثیزونه ورکوی. هغۀ د دنیا ټول قومونه د یو نسل نه پیدا کړل چه د ټولی دنیا په مخ اوسیږی.
(اعمال ۱۷: ۲۵- ۲۶)




**نو، هغه تا سره مینه کوی.**

خدای د دنیا سره داسی مینه وکړله چه خپل یکی یو
زوی یی هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوی یی
ایمان راوړی هغه هلاک نۀ شی خو د تل عمری
ژوندون بیا مومی. (یوحنا۳: ۱٦)




## خدای یی کوی.

او د هغۀ مینه مونږ ته په دِ شان ښکاره شوه چه هغه دِ دنیا ته خپل یک یو زوی د دِ د پاره راولیږلو چه مونږ د هغه په وسیله ژوندون ولرو. مینه په دِ کښی نۀ ده چه مونږ د خدای سره مینه وکړله بلکه په دِ کښی ده چه هغۀ مونږ سر مینه وکړله ، او زمونږ د ګناهونو د کفاری د پاره یی خپل زوی راولیږلو.
(۱ یوحنا ۴: ۹-۱۰)




**هو. هغهٔ ته پته شته.**

عیسیٰ مسیح و فرمائیل: "او خو پوری ستاسو تعلق دے ستاسو د سر ویښتهٔ هم شمارلے شوی دی."
(متی ۱۰: ۳۰)

او د خدای نه د خلقو هیڅ څیز پټ نهٔ دے بلکه د چا سره چه زمونږ حساب دے، د هغهٔ په نظر کښې ټول څیزونه ښکاره او بې پردې دی. (عبرانیانو ۴: ۱۳)




هو،
خو خدای خپله مينه مونږ ته داسی ښکاره کړه، کله
چه مونږ لا ګناه ګار وو نو مسيح زمونږ د پاره مړ شو!
(روميانو ۵: ۸)

د خدای مینه د ستاسو سره داسی ده لکه چه عیسیٰ
مسیح په دِ قیصه کښی و فرمائیل: " د یو سړی دوه
زامن وو.



او کشر یی خپل پلار ته و وئیل، پلاره! زما برخه جائیداد ما ته را وسپاره. نو پلار خپل جائیداد په هغو وویشلو.



لږه موده پس هغه کشر زوی یی خپل ټول جائیداد خرڅ کړو، پیسی یی پری نغدی کړی او چیرته لری وطن ته لاړو



او هلته یې خپل مال په بد چلنئ دوړه کړو، او هر څۀ یې ضایع کړل.



کله چه په هغه وطن قحط راغے او هغهٔ ته یی هم تاو ور ورسیدو، نو هغه لاړو او د هغه مُلک د یو زمیندار سره نوکر شو او هغهٔ هغه خپل پټی ته واستولو چه خنزیران و څروی.



د هغهٔ ډیر زړهٔ کیدو چه دهغو پلو نه ګیډه ډکه کړی
کوم چه به دی خنزیرانو خوړل خو هیچا هم هغه ته
دا نهٔ ورکول



بیا هغه په هوش کښې شو او ویې وئیل، زما د پلار
ځومره نوکران د خپل ضرورت نه زیاته ډوډۍ لري او
زهٔ یم چه دلته د لوږې مرم!



زهٔ به لاړشم خپل پلار ته به ووایم چه پلاره! زهٔ د خدای او ستا په مخکښی ګناه ګار یم. نور زهٔ د دِ قابل نهٔ یم چه ما ته خپل زوی ووایی، ما تهٔ د خپلو نوکرانو په شان شماره.



او په دی نیت هغه د خپل پلار کور ته روان شو.



خو لا هغه ډیر لری وو چه د پلار نظر پری



پریوتو او زړه یې پرې وسوزیدلو. هغهٔ ور دَو کړو او ور
تر غاړه وتو او کښل یې کړو.



خو زوئ ووئیل، پلاره! زهٔ د خدای او ستا په مخکښې ګناه ګار یم. پس د دِ زهٔ ستا د زوی بللو لایق نه یم.



خو پلار یې خپلو نوکرانو ته ووئیل، زر شئ! زما غوره
چوغه راوړی او هغهٔ ته یې ورواغوندئ او ګوته ور په
لاس کړئ،



او ځپلی یی ور په پښو کړئ. یو ځورب سخے راولئ او
حلال یی کړئ او راځئ چه خوشحالی وکړو!



ځکه چه زما دا مړ زوی بیا را ژوندے شو، دے خو
ورک شوے وو او بیا موندے شو. او دغه شان
خوشحالی شروع شوه. (لوقا ۱۵: ۱۱- ۲۴)






**هو، کهٔ په حقیقت کښې یې وغواړئ:**

عیسیٰ مسیح و فرمائیل: "هغه څوک چه زما سره مینه کوی، هغه به زما په کلام عمل کوی او بیا به زما پلار هم د هغه سره مینه کوی، او پلار او زهٔ به هغهٔ له ځو چه د هغهٔ سره اوسو." (یوحنا ۱۴: ۲۳)

زهٔ دِ له راغلے یم چه خلق ژوندون و مومی او ډیر یې ومومی. (یوحنا ۱۰: ۱۰)




## دا واوره!

عیسیٰ مسیح و فرمائیل: "ریښتیا ریښتیا تاسو ته وایم، کوم سړے چه زما خبرو ته غوږ ږدی او په هغه چا باور لری چه زهٔ یی راستولے یم هغه تل عُمری ژوندون لری او په هغه به د سزا حکم ونهٔ شی ځکه چه هغه د مځکښی نه د مرګ نه ژوندون ته اوړیدلے دے.
(یوحنا ۵: ۲۴)

عیسیٰ مسیح و فرمائیل: "زهٔ لار یم، زهٔ حق او زهٔ ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نهٔ شی راتلے. (یوحنا ۱۴: ٦)

او هر څهٔ چه زما پلار ما ته را کوی هغه به ما له راځی هغه به زهٔ هیڅ کله و نهٔ شړم. (یوحنا ٦: ۳۷)



د هغه چا سره چه خدای پیژنی خبری وکړه٠

- هغوی به تاسو سره مرسته وکړی٠
- د خدای سره د دعا په واسطه خبری وکړه٠
- مقدس کتاب نور هم ډیر ولوله٠



SGM International

Pashto (YM), ۲۰۰٦, ۳.٥ m